
**په هر څه کې احسان لازم دی**




گرانو ملګرو هر چېرته چې یاست (له حدیث شریف سره اوسئ) خپرونې نوې حلقې ته ښه راغلاست!

خپرونه د اسلام علیکم ورحمت الله و برکاته په وړاندې کولو سره پیلوم:

له شداد بن اوس رضی الله عنه نه روایت دی چې ویې ویل: دوه شیان مې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی، چې فرمایل یې:

**«إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ، فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ، وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ، فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ»**

(رواه مسلم)

***ژباړه:*** *بېشکه الله سبحانه وتعالی د هر څه په حق کې احسان واجب کړی دی، که مو څه شی وژل، په ښه طریقه یې ووژنئ او که مو څه شی ذبحه کول، په ښه حالت یې ذبحه کړئ، چاړه مو ښه تېره او د ذبحې حیوان ژر ارام کړئ.*

**د حدیث مفهوم:**

دا حدیث شریف د دین مهم قواعد بیانوي، چې هغه د ټولو اسلامي احکامو د تحکیم ضامن دي؛ ځکه د انسان کړنې د ژوند په ټولو اړخونو پورې اړوندېږي، نو دا اړیکه په سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، قضایي، تعلیمي او نورو برخو او څیزونو کې، چې د انسان له عمل سره اړیکه لري، شاملېږي.

پر دغه اساس که د وژلو او د حیواناتو د ذبحه کولو په وخت کې احسان مطلب دی، نو په جګړه کې د اسلام د دوښمنانو د وژلو په وخت کې هم احسان مطلوب دی، یعنې ونه ځورول شي او جسم یې مثله ( غوږ، پزه او د بدن نور غړي یې پرې نه شي) بلکې احسان مراعت شي، لکه څنګه چې په حدیث کې وویل شول: (چاړه مو تېره او د ذبحې حیوان ارام کړئ) کله چې انسان دغه کړنې له شریعت سره سمې په ښه توګه ترسره کړي، په دنیا او آخرت کې د نېکبختانو په ډله کې حسابېږي.

**اې مسلمانانو!**

په اوس وخت کې اسلام د ژوند له واقعیته ټول شوی او پر ځای یې د امت په ژوند کې کفر خپور شوی، د کفري کارونو د مخته وړلو لپاره حکام ټاکل شوي او دستورونه (قوانین) ورته جوړېږي، چې د قوانینو له ډېروالي څخه عمل نه پرې کېږي، وار خو له خلکو سره د احسان او نرمۍ شو. پر دې سربېره له مسلمانانو سره د غربي کفارو چلند داسې چلند دي، چې ابهام او پټوالي پکې نشته (ټول پرې پوهېږي) او په دې کې هم شک نشته، چې مسلمانان د دغه دین په خاطر وژل کېږي، بندونه یې پرې کېږي، ګېډې یې څیرېږي او ازادي یې په زور او ظلم اخیستل کېږي. همدا ستاسو لپاره د یویشتمې پېړۍ رهبري او سیادت دی، دا په داسې حال کې ده، چې اسلامي امت له خپل حقیقت نه داسې بې خبره او لرې پاتې شوی، چې اوازه یې د ځمکې څنډو ته رسېدلې او هغه دا چې له خلافت یا اسلامي دولت پرته امت نه شي رامنځته کېدی، هغه خلافت چې څوارلس پېړۍ یې رهبري او سیادت لاره، کومو کسانو یې، چې تر چتر لاندې ژوند کاوه، ډېر خوشبخته او نېکمرغه وو.

اې الله سبحانه وتعالی! موږ د نبوت پر منهج د هغه خلافت له راتلو برخمن کړه، چې د مسلمانانو وحدت پکې نغښتی وي، له هغه څخه ستونزې او بلاوې لرې کړه، یا الله ځمکه د خپل رحمت په نور روښانه کړه.

اللهم آمین آمین